# مه‌رن مجنون (ناول)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نعمت الله رحیمي

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:..........................................................................................................

د کتاب نوم: **مېړن مجنون (ناول)**
لیکوال: **نعمت الله رحیمي**
اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**
کمپوز: **خپله لیکوال**
د خپریدو کال: **2021 زېږدیز - ۱۳۹۹لمریز کال**

...................................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

قدرمن ورور ډاکټر مسیح الله رحیمي ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام زما نوم عمر دی وختونه کېدل چې له وزګارتیا کړېدم، د ورځې بهٔ ویده وم، او د شپې به د همدې کار او روزګار اندیښنو پر سر اخیستی وم، ډېرې داسې شپې سهار شوې چې د لمر وړاندې مې پر خپلو سترګو ولیدې هغه وخت چې ډېر کم خلک ویښ پاتې کیدلی شي.

۱۳۸۸ ل

مازدیګر وو، نوی له خوب پاڅیدلی وم، چې مور مې کوټې ته راغله او په خبرو خبرو کې یې وویل
- د خلکو اولادونه وګوره، دغه وخت له دندې کور ته راځي، زموږ د خان صیب ورځ دا وخت پیل کیږي.
چُپ شوم هیڅ مې ونه ویل مور نه شوای درک کولی چې زما هم کور کې زړه تنګ دی، لاړم د کور مخې ته تر ناوخته ماښام ناست وم او پهٔ زړه زړه کې مې ژړل پر خپل بخت، پر خپل حال او ژوند...

ماښام تیاره وه ۸ بجې کیدونکې وې چې کوچنی ورور مې راغی او را غږ یې کړ
- عمر لالا! ادې وایي راشه ډوډۍ تیاره ده، اوس هلته څه بیلیډینګونه جوړوې چې په ساتونو ورک وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:
- ښه درغلم، بيا يو نېش داره خبره.

لاړم د مور د ستړګو د خاطر لپاره مې لږ څه وخوړل کۀ نه اشتهاء خو ډېر وخت کېده له ما خپه وه.

وروسته له ډوډۍ خوړلو مې د ماخستن لمونځ وکړ او همداسې د خپلې خونې کړکۍ سره ناست وم، وخت تېرېدو شپه پخه شوه، تورو ورېځو سپوږمۍ خپله غېږه کې پناه کړه.

په کړکې مې سر ايښی وو، چې د لاندې يو قسم غږونه تر غوږ کېدل لږ لږ مې واورېدل
- هاهاها! ژونده زه چېرې يم؟ دلته څوک شته؟
ونشو ور ښکته شوم بې له دې چې شور جوړ کړم، پټ پټ له دروازې ووتلم، يو کس تر ستړګو کېدو شاته يې يو بوجۍ اچولې وه، ځانه سره مې وويل
- اممم! لکه چې پوډري دی
بېرته را وګرځېدم د کور خوا چې غږ يې وکړ:
- هاهاها! زه پوهيږم، هو پوهيږم
- هن! په څه پوهيږې؟
- په دې چې تا ماته د پوډري او معتاد ګُمان وکړ
- ولې معتاد نۀ يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرې سره يې له خپلې شاته بوجۍ يو كتابچه راوباسله او را يې راكړه او ويې ويل:
- واخله واخله، هسې زما په درد نهٔ خوري دا ووايه بيا ووايه چې زه پوډري يم كهٔ نه.

لاړم كتابچه مې ځان سره واخيسته څه نا څه خوښ وم ځكه خوښيدل مې د نورو ورځني يادښتونه ولولم او دا خو بيا په اجازې سره وو

خونې ته د ننه شوم، غوښتل مې گروپ بل كړم چې برق نه وو، خپل لاسي څراغ باندې مې كتابچې ته رڼا كړه، خړ گرد پرې پروت وو ټک مې وركړ خړې خاورې ترې پورته شوې چې يو نوم تر سترگو شو

- مدېرن مجنون - ۱۳۸۰

كتابچه مې څه نا څه صفا كړه، تياره وه زه يې هم كيسه كې نهٔ شوم همداسې مې كېښوده او د تل پهٔ څېر د كړكۍ څنډې ته ناست وم او انديښنې مې كولې، داسې ساعت نيم ساعت وروسته به مې يو نظر د خونې مينځ ته كتل نور بهٔ مې نظر بيرون خوا وو چې د خونې مېنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې وکتل چې د چارجر ګروپ څرک وهلو، خوشحاله شوم او ګروپ مې بل کړ کتابچه مې را واخیسته، خلاصه مې کړه لومړۍ پاڼه تشه وه صرف یو سمایلي ایموجي پکې پر قلم جوړ وو دویمه پاڼه مې خلاصه کړه لیکلي وو

- ۱۳۸۰ د جدی ۲م

که څه هم موږ بهرنیانو غوندې له ماشومتوبه ورځني یادښتونه نهٔ لیکو او دا فرهنګ زموږ مینځ کې کم لیدل کیږي، خو خیر زه یې د ۲۰ کالو پهٔ عمر پیل کوم هغه د مشرانو خبره نیک کار کې بهٔ ناوخته کوو نه، فکر کوم دا متل هم رانه غلط شو هاهاها، خو خیر د مشرانو خبرې دي موږ کشران یو موږ خو غلطي کولو ته جوړ شوي یو، نو زهٔ به ځان در وپیژنم کهٔ څه ورځني یادښتونه شخصي وي خو څه خبر کومه ورځ یې بل څوک لوستو ته اړ شي.

زما نوم ظاهر دی، هو همداسې بیا ښکه چې ظاهر کې یم باطن کې هم یم دوه مخي توب مې نده زده څه چې زړه کې لرم پهٔ خوله هم دي ځکه خو ډېر ملګري رانه خپه کیږي هم چې سپینې خبرې کوم خو هغوی بیا ظاهر باندې خپل خفګان نهٔ ښکاروي ځکه چې زه د دوی اپ ټې اپم یم، اوس خود صفتي نشي زه پر دوی خرچې کوم خبره راغله زما د تعلیم ما دولس کاله ښوونځی ویلی تر ښنګ یې ما د خپلې مینې له وجې چې سافټوېر سره درلوده اپ ډېولپمینټ ویلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا ورځني یادښتونه چې ما پیل کړ دا یو خاص دلیل لري هغه دا چې دوه هفتې کیږي پوهنتون مې پیل کړی، او خبره د زړه ده.

دوه دری پاڼې تشې وې، شاید دلته یې څه لیکلي وو داسې ښکاریدې چې شکولې یې وي له کتابچې خیر بله پاڼه مې واړوله

- ۱۳۸۰ د جدی ۲۴م

آه! ما ویلي وو چې زموږ عادت ندی دا یادښتونه لیکل خو خاص ستا لپاره یې لیکم ځکه ستا له چلند ښکاري چې ته به زما نشې، بیا دا کتابچه درکوم کیدای شي زما پهٔ لیکنو د زما سره مینه پیدا شي، خو ظاهر د ماتې خوړلو سړی نهٔ دی.

څلور هفتې پوره کیږي چې پوهنتون مو پیل کړی ده، او زما مغز کې ټکی نشته یو دا چې نور تختې ته ګوري زه د هغې د مخ هنداري ته بل دا چې دا رشته اصلاً زما خوښه نهٔ ده، ظاهر اصلاً پوهنتون ته نهٔ دی جوړ ځکه بېل ګېټس غوندې یم، خیر د نن ورځې کیسه به ولیکم

سهار ۸ بجې پوهنتون پیل کیږي دا چې زما عادت دی سهار د لمانځه وروسته خوب نهٔ راځي او نه ویده کیږم، تر ۷ بجو خو پهٔ یو رقم وخت تیروم، وروسته له هغه بې د چایو خوړلو له کوره راوځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه کور کې خو تړول تر ناوخته ویده وي ۷ او ۲۰ دقیقې وې پوهنتون ته ورسیدم د پوهنتون له کانتین مې د خوړلو لپاره چای او بیسکیټ راوړل، صنف ته را پورته شوم، چې ګورم هغه صنف کې ناسته ده نور څوک هم نشته غلی لکه یو شریف هلک غوندې کېښناستم، نهٔ مې غوښتل د هغې مخ کې شوخي وکم خو څه وکړم رګ رګ کې مې شوخي ده، ځانه سره مې سندره زمزمه کوله چې یو دم را یاد شوم چې کتابچه مې هم له کوره ځانه سره نهٔ ده راوړې ومې ویل

- واه! بیخي لغړ راغلی یم باید اوس کتابچه راوړم

له صنف وتلم چې هغې غږ وکړ

- هې! هلکه

- هې! جلۍ، چیش دي؟

- کهٔ لاندې کانتین ته ځې یو څه راته راوړه زه نشم تلی، هلکان دي هلته ډېر

- هو هو زه خو ځم

جلۍ راته یو پنځوسی را وباسه ما زړه کې ویل

- ګوره غیرت کې مهٔ راځه، دا واخله یادګاري یې وساته

پیسې مې ترې واخیستې او روان شوم، کله چې کانتین ته ورسیدم رایاد شوم چې ما خو ونهٔ پوښتل چې څه غواړي خو کتابچه مې واخیسته بیرته صنف ته لاړم، غږ مې وکړ پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هې! تا څه غوښتل ماته د ونه ويل
- پريږده يې اوس يې مه راوړه ته هم ريشخند وهې، ما ويل ته به نورو غوندې نه يې
- ښه اوس پيسې بيرته غواړې؟
- نه تاته يې پريږدم خې

جيب باندې مې لاس ووهلو ترڅو يو بل پنځوسى ورکړم او دا زما سره پاتې شي خو جيب کې مې زرګون وو حيران وم خو يو دم ورغلم، زر روپۍ مې ورکړې
- ما پنځوس روپۍ درکړې وې دا خو زرګون دی؟
- نه ماته دې همدا راکړی وو کنه
- نه نه پنځوس وې ماسره زر روپۍ بيخي نشته
- همدا وو راشه تلاشي کړه ماسره خو پنځوسی نشته
زړه نا زړه يې دستکول کې واچولو چُپ وه څه يې نه ويل، د پوهنتون د رخصتۍ وخت کېدو ټول له صنف ووتل زه په تمه وم چې هغه ووځي بيا به ځم خو صنف خالي شو هغه يې پرځای وه زه هم روان شوم چې فکر ونکړې چې دا زما لپاره صنف کې دی چې له دروازې وتلم هغه هم زما پۀ لوری را روانه شوه او را غبږ يې کړ
- ګوره! داسې ولې کوې، زه پوهيږم هغه پيسې زما ندي
- ته پريږده، ما ويل که مهم څه وايې

را منډه مې کړه او روان شوم ترې دروغ ويل هم سخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له مودې ددې يادښتونو پۀ لوستلو خوب راغی، بله پاڼه مې واړوه تشه وه صرف يو زوړ پنځوسی پکې پروت وو ومې ويل
- شايد همدا هغه پنځوسی ده...

کتابچه مې وتړله، او ويده شوم

عجيبه وه، د ټولو ورځې په خوب سربيره بيا د شپې ويده شوی وم خو هيڅ کې له لوستلو زړه نۀ مړېدو، سهار مې مور راباندې غږ وکړ لمونځ مې وکړ، پر جاينماز ناست وم ورمخکې شوم د بالښت له سر مې کتابچه راواخيسته، پاڼې مې واړولې...

۱۳۸۰ د جدی ۲۶م

پرون جمعه وه ځکه مې ليکنو ته هم رخصت ورکړی وو د پنجشنبې د ورځې ليکنې به اوسم وکم، نو پنجشنبه ورځ اول وار وو چې ناوخته صنف ته لاړم، خو پوهنتون ته وخته رسيدلی وم کتابتون کې وم د يو کتاب پۀ لوستو بوخت وم ځکه ناوخته شوه، صنف ته چې دننه شوم کومه څوکۍ باندې چې زه کيښناستم هغه باندې بل کس ناست وو، مجبور وم د مخې قطار ته لاړ شم چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر بديشي د هغې دوه قطاره شاته ځوکۍ کې کېښناستم، د تل په څېر د خپل قلم سره په لوبو بوخت وم درس نو چېرته لهٔ ما کیږي اول ساعت تېر شو د تفريح وخت وو، ټول به وتل خو له ما دا د ماشومان کارونه نهٔ کېدل چې پهٔ چپسو او پاپړو ځان وشرموم هاهاها، صنف کې ناست وم يو څو نور ټولګيوال هم وو هغوی هم دهليز ته ووتل، هغه هم تللې وه زه له ځوکۍ پورته شوم خپل آخر د پاچاهۍ ځوکۍ ته روان شوم چې هغه هم صنف ته را دننه شوه، لاس کې يې پارسل وو چپس وو پکې زه هغسې ورته جام پاتې وم کتل مې ورته چې يو دم يې وويل

- خورې؟ هاهاها!

- څه؟

- وايم چپس خورې؟ که نهٔ خورې نو لارې نه ايسته شه

- هاهاها، وبښه پام نه وو

جامو کې نهٔ ځايېدم، راته ويې خندل او ست يې وکړ راته بيخي پوی نهٔ شوم چې پر ځمکه دريدلی يم کهٔ پهٔ هوا يم وخت داسې ژر تير شو چې هيڅ پوی نهٔ شوم څنګه کور ته راغلم...

کور کې وم خپلې خونې کې، چې مور له ور سر راښکاره کړ او ويې ويل

- ظاهره زويه! ډوډۍ تياره ده راشه

- زه موړ يم هغې ست راته ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره خولې نه ووتله، خو نېم کې مې تيره کړه مور وويل
- څه ؟ د څه شي ست؟
- هغه داسې وه مورې چې ملګري ست وکړ ډوډۍ مې هغې سره وخوړله
- ښه ښه، دارو د شه زويه، خی زه لاړم

مور خو لاړه خو زه وړی هم وم، نو نس چيرته ګورې چې خوشحاله يې کۀ خپه.

مور دوی ډوډۍ خوړلې وه مور لمونځ کولو ما غوښتل پټ د پخلنځي خوا لاړ شم چې څوک مې ونه ګوري، د چا خبره غيرت کې راغلی وم

مور سلام ګرځولو او زه برق غوندې د پخلنځي خوا لاړم څلورو طرفو ته ګورم خو د خوړلو لپاره هېڅ نه وينم يو ديګي کې شړومبې وې بې له څه کتلو مې پۀ سر واړولې، او خونې ته مې منډې کړې ستړی شوم او ساه مې بنده بنده کېده همداسې پروت وم خوب راغی راباندې...

له پوهنتون رخصت شولو، موټر مې چالان کړی وو پۀ تمه وم ترڅو لږ ګرم شي حرکت وکړم، زموږ پوهنتون کې به اول هلکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصتېدل وروسته انجونې زما موټر ترڅو ګرمېدو نجونې هم رخصت شوې سمدلاسه چې ما حرکت وکړ هغه هم زما مخې ته روانه وه ځانه سره به مې وویل

- ظاهره! همدا یې وخت دی ګوره

- نه نه! که د موټر ورته ودرولو بد فکر بهٔ وکړي

خیر همداسې ترې تیر شوم چې د ځنګ شیشه کې ګورم لاس ښوروي، یو دم ودریدم موټر مې ریورس کړ شیشه مې ښکته کړه ومې ویل

- هن! څه وایې؟

- وبښه! زموږ د ترانسپورټ موټر نن نشته پنجشنبه هم ده موټر نه پیدا کیږي، نو ته کومې خوا ته ځې؟

- زه داسې کوټه سنګي پورې ځم

- الله! نو ما به هم ونه رسوې

- سیې ده زه ثواب ګټلو کې بیړه کوم، راپورته شه

موټر کې ناست وو، خبرو خبرو کې هغې وویل

- ته پوهیږې، زما ته ډېر خوښ یې

حک حیران شوم همداسې مې ورته کتل

چې یو چغه شوه

- مخې ته ګوره ظاهره

خبره خلاصه وه لوی تېلر را روان مخامخ چې بریک ته مې پښه کړه، پښه مې له کمپلې را ووتله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیغ کېښناستم، یو ساعت مې پخپل تور بخت سوچ کولو بیا به خندا راغله چې دا څنګه خوب وو بس ومې ویل
- د شړومبو خوب هم زورور دی.

تر همدې ځای مې لیکنې ولوستې، مورکۍ مې غږ وکړ
- عمره! راسه چې باران پیل نشي وربېځ پخه سوه بام ته وخېژه او هغه شوتله راښکته کړه چې لمده نشي

لاړم شوتله مې راښکته کړ، د اسمان پړکهار وو، بېرته مې خونې ته دننه شوم د کړکۍ پر خنډه ناست وم کتابچه مې را واخیسته، ټق ټق آوازونه شول پورته مې وکتل پر ښیښو ږلۍ لګېدله د مور غږ له دهلیز خپ خپ تر غوږ کېدو ویل یې
- واه خدایه! دا ږلۍ خو بهٔ ډېر فصلونه خراب کړي!

ما یادښتونو ته دوام ورکړ...

- ۱۳۸۰ د جدی ۲۷م

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن سهار ټولګي کې د تل په څېر ناست وم لا ځوک نه وو راغلي له ځانه سره مې د رحمان بابا د غزل څو بيتونه ويل:

نو اشنايي توره بلا ده اشنا مه شې
جدايي به د فناه کا فناه مه شې

دغه غم به دې د زړه ولې کا غوڅې
ګرفتار په درد او غم د جانا مه شې

دا مې لا نيم ويلي وو چې شاته مې وکتل هغه دروازې سره دريدلې وه، زه داسې تک سور شوم اول وار وو چې تر تاثير لاندې راغلم هغې وخندل او ويې ويل

- ميئن يې؟
چُپ وم له خولې مې خبره نه وتله او زړه ويل
- ووايه ورته! ووايه همدا يې وخت دی
مغز ويل
- نه نه که يې ونه منې نو هنګامه جوړيږي
نو دومره مې وويل
- نه زما د رحمان بابا شعرونه خوښ دي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بې له څه ویلو راغله زما څنګ ته څوکۍ باندې کېښناسته داسې یې پر شونډو مُسکا خوره وه لکه یو ماشوم چې لانځکو ته خوشالیږي ویې ویل

- پوهیږې؟

- په څه؟

- زما هم شعرونه ډېر خوښ، دلته کې یو ته زما له طبیعت سره برابر یې نور خو ټول درسونه وایي.

خوشاله شوم چې درس نه ویلو لکه چې ګټه راته وکړه ومې ویل

- زه خپله هم لږ لږ لیکم

- څومره ښه، نور به دا وخت راځې زه هم وخته راځم نو یو بل سره نوې لیکنې او شعرونه شریکوو

- اممم، سیې ده دا خو لا ښه ده

ډېرې خبرې مو وکړې، ټولګی ورو ورو ډک شو هغه لا ناسته وه، د هغې ښایست مکمل پوهنتون متأثیره کړی وو ځکه خو ټولو زما لور ته عجیب عجیب کتل ورته ومې ویل

- ښه! نو اوس د ځای ته لاړه شه خلک بد فکر ونکړي

- ښه ځم

داسې خوشاله وم چې مه پوښته، خو یوه خبره وه چې د هغې غوښتونکي ډېر وو، له هغې ساعت چې دا ماسره نورو ولیده ټولو په بد بد راته کتل خو زه یې کیسه کې نه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رخصتۍ وخت وو د آخري ساعت حاضري اخیستل کېده چې هغه راغله راته یې وویل

- سبا ته وختي راشې بیا
له خپل دستکول یې یو قلم راوباسلو ماته یې راکړ ویې ویل
- دا مې مرحوم پلار راته هغه وخت راکړی وو چې لسم ټولګي کې اول نمره شوې وم، اوس یې تاته درکوم خو ساتنه به ترې کوې

څه مې ونه ویل وزر نه وو کهٔ نه پهٔ هوا وم، نه پوهیدم چې داسې بهٔ ژر ژر ماسره ملګرې شي او خپل خاص څه به راکړي.

کورته ورسیدم ناست وم او قلم مې لاس کې وو ورته کتل مې، پلار وختي راغلی وو دا ورځ ویې ویل
- قلم د کتلو لپاره نه، د لیکلو لپاره دی، درس ووایه، راتلونکي غم خو درسره نشته، زه به تر کله درته ژوندی وم
مور د خبرو مینځ کې ور نوره کړه
- اوهوو، پریږده بیچاره ستړی ده، تل ورته همدا خبرې کوې نور لوی ده خپله ښه پوهیږي

زه همداسې پورته شوم خپلې خونې ته ولاړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې ځای مې لیکنې ولوستې، بڼلی دریدلې وه، خو نری نری باران وو، مور غږ وکړ
- عمره! بام ته پورته شه ناوه بنده ده خلاصه یې کړه چې هسې هم بامونه شړیدلي

لاړم بامونه ناوې مې خلاصې کړې ډېر وخت تیر شو، غرمه تیره د ماسپښین لمونځ مې خلاص کړ لا پر جاینماز ناست وم، چې د لمر وړانګې پر جاینماز ولګیدې، بڼلی شوې وه ځکه ساړه وو لمر په هډوکو لکه دارو داسې لګیدو، لاړم د کور مخې ته پخپل دایمې ځای کیښناستم کتابچه مې ځان سره وړې وه، کېښناستم د یادښتونو لوستلو ته مې دوام ورکړ...

- ۱۳۸۰ د جدی ۳۰م

ویلو ته خو څه نشته، خو اوس په مات زړه وایم چې ظاهر د ماتې خوړلو نهٔ دی...

سهار صنف ته وختي راغلم ځکه هغې ویلي وو
کله چې ورسیدم هغه لهٔ ما مخکې راغلې وه کېښناستم جامو کې نهٔ ځاییدم ډېر خوشاله وم زما یو کتابچه وه هغه مې وړې وه ځکه هغه کې مې غزلونه او شعرونه لیکلي وو د هغې لپاره کتابچه مې ورکړه ومې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واخله! وگوره شاید خوښ د شي
- ښه واخله ته هم، له کانتین مې تاته هم قهوه راوړې
- اممم، مننه نو
- جیب جیب
- څه؟
- وایم مننه د جیب کې کېده ملگرتیا کې نهٔ مننه نهٔ ښښنه
- واو، دا خو لاښه ده زما هسې مننې او ښښنې نهٔ خوښیږي

یو بل سره مو کیسې کولې خبرو خبرو کې هغې دا وویل چې
- وگوره! دا زما کتابچه ما هم یو څه نا څه پکې لیکلي

کتابچه یې راکړه چې خلاصه مې کړه یو انځور ترې را ولوېدو
راپورته مې چې کړ د یو هلک انځور وو ومې ویل
- دا څوک دی؟ ورور دې دی؟
- نه استغفرالله، ورور نه کوژدن مې دی
- څه؟
- هو کوژدن مې دی، له ماشومتونه یې پهٔ نوم وم، اوس اردو کې دی
د عسکرۍ دوره یې خلاصه شي واده کوو
- ښه...
- واده ته مې راځې بیا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ مې ونه ویل، کتابچه مې هم پاتې شوه له پوهنتون را ووتم، او تراوسه په زړه کې زما مینځینی انسان سل وارې مړ شو...

دا لیکنه تر همدې ځای وه وروسته دری پاڼې یې بیا تشې وه، زه هم خپه شوم ځکه ددې یادښتونو مینځنی کرکټر ډېر په زړه پورې وو او ما ګُمان کوو لکه زه چې وم، بله پاڼه کې بیا لیکنو دوام موندلی وو

۱۳۸۰ د دلو ۲م

وروسته له څو ورځو پوهنتون ته تللی وم، خو بې خونده شو، او اوس کهٔ هغه هم راسره خبرې وکړي زه یې نهٔ کوم زما پښتو او غیرت نهٔ مني چې د بل کس ناموس سره خبرې وکم یا د مینې او محبت پهٔ سترګه ورته وګورم خپل ځای باندې آرامه ناست وم دا چې ټولګي کې لږ شوخي کوم هن استادانو وی چې ولې داسې چُپ یې؟ څه شوي؟ ما به څه ویل بس چُپ وم، له هغې مې نظر غلا کولو نهٔ مې غوښتل ورته وګورم څو ځلې بهٔ یې زما خوا مړې سترګې راوړولې ما به مخ بل خوا واړولو، رخصت شولو او ترټولو مخکې دا ځل له ټولګي ووتلم موټر مې چالان کړ ناست وم ترڅو حرکت وکم نجونې هم رخصت شوې نو زه نور پهٔ تمه نهٔ شوم حرکت مې وکړ د همغه خوب پهٔ شان مې مخې ته راغله خو زه ترې تیر شوم ور ومې نهٔ کتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ليکنه همدومره وه پاته مې واړوله

- ۱۳۸۰ د دلو ۳م

د شپې مې ځان سره سوچونه کول چې که زه داسې چلند تغئير کړم نو دا سيي نهٔ ده مخکې خو هم ما ورته د مينې اظهار نه وو کړی بس د دوه ټولګيوالو پهٔ څېر مو يو بل سره خبرې کولې نو دا ښه ده چې هغسې نارمل واوسم.

سهار په همغه خپل وخت پوهنتون ته لاړم، ټولګي ته دننه شوم هغه ناسته وه، ورغلم لومړۍ خبره يې دا وه چې
-هې! پهٔ تا څه شوي؟ چې داسې بل ډول چلند کوې؟ څه ستونزه خو بهٔ نهٔ لرې؟
- هيڅ هسې لږ ناروغ وم
- څه؟ ولې څه شوي وو
- لږ زوکام وم اوس مې هم تبه ده
له دې خبرې سره يې يو دم زما لاس ونيولو ويې ويل
- دروغ ولې وايې ته خو جوړ يې ؟
- نه اوس ښه شوم چې راتللم دوا مې وخوړله

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان کهٔ څومره هم نیک شي، خو مینه کې ړوند شي د هغې لاس
چې پهٔ ما ولګېد نو ما زړه کې وویل

- ته څه خبره یې د مینې تبه ده، پهٔ اسانۍ نه شکیږي دا تبه

هغه یې خپل ځای ته لاړه ما د خپل کتابچې له مخې د عابد صیب دا بیتونه لوستل

تانه توبه ګار ومه بلها توبې مې ماتې کړې
یوه خندا د وکړه او اتیا توبې مې ماتې کړې

نن یې پهٔ کتو کې د شرابو نشه راکړله
بیا رانه نن وشوله ګناه توبې مې ماتې کړې

همدې کې د پوهنتون زنګ ووهل شو درسونه پیل شول د هغې کتابچه ماسره پاتې شوه غوښتل مې ور یې کړم ترڅو بیا لیدو ته آخر کې بهانه جوړه نشي څه مې کړي وای؟ لیدلو باندې یې لا څوربږم، خو داسې ونه شول د اول ساعت ۴۵ دقیقې تیرې وې چې پوهنتون ته د دوی له کور څوک راغلل او هغه یې لهٔ ځانه سر بوتله، زما زړه درزیدو ذهن کې مې همدا خبرې وې چې

- داسې نه ماسره چا لیدلې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هسې نه چا بد ګُمان کړی وي او د دوی کور ته يې خبر ورکړی وي؟
- خدای مکړه زما په سر يې پهٔ درسونو بنديز ونه لږي؟

دا ډول انديښنو مې سر پهٔ درد کړ نيم ساعت وروسته يې زه هم له پوهنتون ووتلم او کورته لاړم

موټر مې خپل ورور ته په لاس ورکړ زه کور ته دننه شوم، دهليز کې څوک نشته وو هملته پرېوتم سوچونه مې کول همداسې خوب وړی وم

چا مې پهٔ اوږه لاس ايښی وو خوځولم يې سترګې مې نيمې پټې وې وا مې ورېدل
- ظاهره! پاڅه بچی لکه چې بد خوب د ليدو
- ولې بابا؟
- ورشه مخ باندې يخې اوبه واچوه، خولو کې ډوب يې
- خو څه شوي وو، زه خو ويده وم؟
- نهٔ پوهېږم خوب کې د سوله سوله ويل، لکه چې لهٔ جګړې ستړی يې
څه مې ونه ويل ځکه سوله خو د هغې نوم دی، کهٔ ټوله نړۍ کې يوه مرمۍ پاتې نهٔ شي، ټوله نړۍ اباده هم شي زما د ړنګ بنګ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ خو هغه ده، بې له هغې زما امپراتورۍ کې هره ورځ ماتم دی...

مخ مې ومينځلو اودس مې وکړ د مازديګر وخت وو، جومات ته لاړم لا د لمانځه وخت نهٔ وو، څنګ ته کښېناستم شيبه وروسته ملاصيب را غبرګ کړ
- وه ظاهره! دلته راشه.
لهٔ ځای مې پورته شوم څادر مې څنډه وهلو ور نږدې شوم
- ووايه ملاصيب؟
- خيريت خو دی؟ ولې د رنګ اوښتی؟
- څه... څه هم نشته ملاصيب خيريت دی
- ګوره زويه کهٔ يو ورځ هم لهٔ تا مشر وم شايد لهٔ تا ډېر پوهيږم ووايه لهٔ ما يې مهٔ پټوه؟
يوه شيبه چُپ شوم، زړه مې ډک وو همدا يې وخت وو
- ملاصيب زړه مې لهٔ ژوند تور دی
- استغفرالله! ګنهکار شوې داسې مه وايه، چې ستونزه شته، حل يې هم شته مه هېروه چې ( لا تحزن ان الله معنا)
- پوهيږم! ملاصيب خو دا ستونزه نهٔ حل کېدونکې ده
- د مينې معامله ده؟
سر مې ښکته واچولو ومې ويل
- هو!
- نو وه ليونيه جرګه بهٔ ورشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه ملاصیب هغه د بل په نامه ده

ملاصیب غلی شو سوړ اسویلی یې وویست

- زویه! الله ج لهٔ صبر کوونکو سره دی، هغه زموږ په خیر دی، شاید هېرولو کې یې خیر وي، مینه دا نهٔ ده چې باید زموږ د سترګو وړاندې وي مینه یو حس دی

خبرو خبرو کې یې وویل

- الله ج سره مینه لرې؟

- بېشکه ملاصیب

- الله ج د لیدلی؟

- نه! خو الله شته دی په دې خو ټول ایمان لرو

- نو ته هم د هغې یادونه خپل قوت وګرځوه، کهٔ یادونه یې تا کمزوری کوي او ویرېږې، ویره دې ملګرې کړه

ملا صیب په اوږه لاس راته کېښود لاړ چې د لمانځه وخت دی، شیبه وروسته جمع وشوه را ووتم د باندې د جومات پر دېوال ناست وم د پټو خوا مې سَیل کولو هوا سړه وه څادر مې تر ځان تاو کړی وو

کورته ولاړم زړه مې هېڅ ځای سکون نهٔ موندلو ډوډۍ تیاره شوه، پلار وویل

- بچیه! درسونه دې څنګه مخکې ځي؟

- ښه دي بابا

- داسې د وویل لکه هېڅ چې ښه نه وي

- نه نه ښه نو ځم راځم بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډوډۍ خوړلو او خبرو کولو حوصله مې نه وه پورته شوم
- زه ویده کېږم
- چېرته ځې زویه ستا لپاره مې ستا د خوښې پالک پوخ کړ او ته بې له څه خوړلو ځې
څه مې ونه ویل د دویم پوړ زینو کې کېنېناستم د وروړ غږ مې واورید ویل یې
- بابا په دې خودا چیشی شوي نن یې چالان موټر تر دروازې نهٔ شو دننه کوی ماته یې راوسپاره
- خیر نوی یې پوهنتون پیل کړی هرڅهٔ به سم شي

خونې ته مې ولاړم پرېوتم خو د خوب درک نشته وو، فلمونو کې مې د ستورو شمارل لیدلي وو ما بیا پهٔ ریښتیا وشمېرل د ملا اذان وخت کې مې سترګې پټې شوې وې، چې راویښ شوم لمونځ قضاء وو د ټولو ورځو پهٔ پرتله ډېر په بېړه پوهنتون ته لاړم ټولګي ته دننه شوم، نشته وه!
نه وه راغلې خو بیا مې هم ځانته دا ډاډ ورکولو چې وروسته بهٔ راشي خو د رخصتۍ زنګ ووهل شو...

ماښام کېدونکی وو کوچنی وروړ مې نارې کړې
- عمر لالا راشه ادې د غواړي
ورغلم ومې ویل:
- السلام علیکم، ادې څه د ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زویه لکه چې زما خبرو دربانديې تاثير کړی ګاونډي ښځې ويل
چې زوی د کور مخې ته کتاب لولي
ځان سره مُسک شوم
- هو ادې درس وايم

شيبه وروسته ډوډۍ تياره وه، لوبيا پخه وه زما ډېره خوښه ده، د سترتيا ډوډۍ هم ډېر خوند وکړ ځکه لوستلو ستړی کړی وم، لمونځ مې وکړ ډېر ژر ويده شوی وم...

سهار شو د چرګانو بانګونه مې اورېدل خو برستن مې لا نوره پر ځان کش کړه، شيبه وروسته مې سترګې پرانيستې لمونځ مې وکړ او وختي د باندې ووتلم کنښيناستم او ليکنو ته مې دوام ورکړ...

- ۱۳۸۱ د حمل ۱
پوره ۵۷ ورځې تيرې شوې، بيا مې نهٔ غوښتل چې خپل د بدبختيو ليکنو ته دوام ورکړم، خو ژوند بهٔ نورې کومې لوبې کوي الله پوهيږي

دومره وخت کې صرف د هغې لپاره پوهنتون ته راغلی يم خو هغه بيا... هېنداري ته نهٔ ګورم خو تهول وايي له ځانه دې څه جوړ کړي ږيره او ويښتان مې اوږده شوي دي ددې ليکنې لامل هم هغه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیره ورځ ټولګي کې ناست وم، استاد د درس وروسته پوښتنې کولې رخصتۍ ته کم وخت پاتې وو استاد غږ کړ

- پاڅه! شیخه

هیڅوک پورته نهٔ شول استاد زما لوري ته اشاره وکړه ویې ویل

- هې تاته وایم

- څه؟

- هو ولې ته شیخ نه یې؟

- نه ولې

- خودا خو مشر ښکارې پاڅه درس تکرار کړه

ټولګیوال پهٔ خندا شول هاهاهاها...

همدې کې د رخصتۍ زنګ ووهل شو، د ژمي آخر بارنونه وو د پوهنتون راوتلو وخت کې ټولو راپسې چغې وهلې

- شیخه! شیخه

خو زه چې پهٔ زړه ړوند او کوڼ وم نو داسې بهٔ مې څه ورته پام کېدو کیسه کې یې نهٔ شوم

د خپل موټر خوا ورغلم د موټر دروازې سره یوه پیغله دریدلې وه، له ساړو ریږدېده، لمدې زلفې یې پر مخ ځنګېدلې، باران یې د سترګو د رانجو سېلاب جوړ کړی وو، هو هغه وه، سر مې وخوځولو سترګې مې ومږې چې خوب نهٔ وي خو هغه وه

پهٔ غوصه مې وویل

- څوک یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړغوني غږ یې وویل:
- پوهیدم اوس به مې نه پیژنې
ژړا مې یې ونشوه زغملی ومې ویل
- هله ساړه دي موټر ته پورته شه
موټر ته پورته شوه ځان مې کابو کړ ومې ویل
- څنګه دومره وخت وروسته؟ هغه ورځ چې لاړې بیا رانغلې.
- زما کتابچه تاسره پاتې وه
حیران شوم ځکه پوهیدم چې اصلي خبره بل څه ده
- رینښتیا ووایه! څه شوي؟
په ژړا شوه خبرې یې نۀ کولې ما هم څه ونه ویل چې زړه یې تش شي، زه ښه پوهیږم ډک زړه څه مانا، شیبه وروسته یې وویل

- هغه ورځ چې له کور راپسې ورونه راغلل، زما کوژدن سرحد کې شهید شوی وو

آه مې وباسه او غلی شوم
څو شیبې غلی وم، د چا پۀ مرګ خو خوشالي ګناه ده خو زړه مې ښۀ شو چې ګواکې زما لاره صفا شوه، خو بیا مې هم دا سوچ کولو چې خپل کوژدن سره یې مینه لرله ځکه خو یې انځور کتابچه کې وو

ومې ویل:
- الله یې د وبښي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو څه؟
- خو ولې دومره وخت نهٔ راتلې؟ پوهنتون ته په ژړغوني غږ يې وويل:
- يې داسې کهٔ کوې داسې؟
- مطلب؟
- ته ولې نهٔ پوهيږې؟ ولې؟ هغه کتابچه ما قصداً تاته پريښوده له دې خبرې سره لهٔ موټر ښکته شوه، غږ مې کړ
- چيرته ځې!
همداسې ولاړه...

ما پهٔ زوره چغه کړه:
- ستا عادت دی همداسې تګ، مه راځه بيا هم رانشې

د موټر ډشبورډ باندې له هغه وخت راهيسې کتابچه هغسې ايښې وه، ما کتلې نه وه، پورته مې کړه خلاصه مې نهٔ کړه ومې ويل:
- والله کهٔ يې وګورم دا څه ماشومتوب شو

فکر مې ډېر ګډوډ وو لږ څه غوصه هم وم، د موټر ټايپ کې سندره غږيده چې:

کله چې ستا د سترګو پهٔ ښکلا واوښتمه
لاړم اشنا د مينې پهٔ بلا واوښتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې مې زړه نرم کړ د هغې سترګې مې سترګو ته کيدې ومې غوښتل وګورم چې کتابچه کې داسې څهٔ دي چې ماته يې پريښې وه، پهٔ روان موټر کې مې کتابچه خلاصه کړه پهٔ لوستو مې پيل وکړ ليکلي وو:

- زما بخت لهٔ ماشومتوبه تور دی، کله چې نوې وړېږدم د خوشالۍ پهٔ جوش کې مې پلار زما ژوند د بل چا د زوی پهٔ نوم کړ، له ماشوماتوبه مې د هغه نوم اوريدلی خو چې زړه څوک ونهٔ مني انسان نو څه شی ده؟ زما نهٔ دی خوښ کهٔ واده وشي هم صرف زما له جسم سره بهٔ واده کوي زما روح لومړی د هيچا نهٔ وو خو اوس پکې يو څوک... ظاهره! زه اوس تاسره مينه لرم

له دې سره مې کم پاتې ؤ، چې بيا ټکر کړی وای، خو شکر بچ شوم.

د سهار ناشتې لپاره کورته ولاړم، زه هم ډېر خوشاله شوم چې ظاهر سره مينه لري نو ځکه مې پهٔ مړه ګېډه ناشته وکړه خو ژر مې لهٔ خپل ځای پاڅېدم خونې ته مې ولاړم او ليکنو ته مې دوام ورکړ، عجيبه وه د يوې بلې کتابچې پاڼې يې له دې ليکنو وروسته ورسره سرېښ کړې وې خو ما دوام ورکړ

- ۱۳۸۱ د حمل ۲۳م

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې خو داسې حالت نه ؤ، چې ليکنو ته يا وخت پيدا شي او يا دوام ورکړم خو اوس بهٔ يې ووايم

د همغې ورځې سبا وو، ډېر پهٔ خوشالۍ پوهنتون ته ولاړم ځکه زه پوی شوی وم چې سوله مې مينه راسره لري اوس کهٔ رانشي هم پيدا کوم يې، پوهنتون ته چې ورسيدم ټولګي ته دننه شوم کښېناستم شيبه وروسته مې ملګری راغی را غبږ يې کړ:

- شيخه! راشه کتابتون ته

- ولې؟

- راشه کنه ستا پهٔ ګټه ده

ورسره روان شوم کتابتون ته دننه شوم، ټول ټولګيوال هلکان او انجونې هلته وو د بهرنيانو خبره سرپرايز شوم ومې ويل:

- څه خبره ده؟

ټول ګوښه شول شاته يې زما د خوبونو شهزادګۍ دريدلې وه ورته کتل مې کتل مې او کتل مې يو ځل مې نظر پر ځمکه ايښې بيک ته شو ومې ويل:

- خبره څه ده؟

ټولو پهٔ يو غږ وويل:

- موږ پهٔ داستان پوی شوي يو!

د ټولګي نماينده مو وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ظاهره وروره! زهٔ خو له اول پوی وم، چې ستا داسې چوپتیا لوی وینښتان، غټه ږیره او تغئیر خامخا د مینې له عمله دی، خو پرون سولې موږ ټولو ته وویل چې دا زما پهٔ خبره سر نهٔ خلاصوي تاسو یو څه وکړئ، د سولې پلار غواړي اوس سوله د هغې د پخواني کوژدن ورور ته نکاح کړي خو سوله تا غواړي او ته او سوله بغیر لهٔ دې بله لاره نهٔ لرئ چې، وتښتیږئ!

زه همداسې غلی وم بل ټولګیوال مې وویل:
- موږ د هرڅه تیاری کړی، خو ښه به وي چې همدا اوس حرکت وکړئ ګني د سولې پلار بهٔ نهٔ تا ژوندی پریږدي نهٔ سوله ځکه د سولې کورنۍ بهٔ اوس خبره شوې وي.

زه حک حیران وم، احساساتي شوی وم پهٔ ژړغوني غږ مې وویل:
- ښه سیي ده
سولې د ټولو پهٔ مخ کې وویل:

- زما مډرِن مجنون هم ژاړي؟

ټولګیوال ووتل درسونه پیل شوي وو، کتابتون کې هم نور څوک نشته وو پر څوکۍ کښیناستم څو شیبې غلی شوم له ځانه سره مې سوچونه کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا خو سيي خبره نهٔ ده، يو ځل خو جرگه ورشه کهٔ يې ونه منله دا تښتول هم يو مانا لري

-پردی لور تښتول، د نرتوب کار دی؟

سر مې له سوچونو چاودېدو ومې ويل:

-تاته د خپل پلار عزت نهٔ دی گران؟

-هرچاته خپل عزت گران دی هېڅ داسې انجلۍ نشته چې پهٔ خپله رضا د بل سره وتښتي

-خو ولې ستونزه څهٔ ده؟

له شيبې چوپتيا وروسته يې وويل:

-هغه ورځ مې هرڅه واورېدل زما پلار زما تره دی

- څنگه تره څنگه پلار کېدلی شي؟

- د مور له خونې اوازونه راتلل داسې ښکارېدل چې خپل مينځ کې يې جنجال دی غوږ نيول مې عادت نهٔ دی خو ورغلم د وره څنگ ديوال ته مې سر کېښود مور پلار ته ويل:

- څه پوهېدو چې زمونږ بهٔ اولادونه پيدا کېږي گني ستا له ورور مې پهٔ ژوند کې دا بدبخته نهٔ اخيستله، اوس يې ژر له دې کور ورکه کړه، زه يې د وينو تږې يم هسې نه خون مې د غاړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تل په څېر څه مې ونه ویل په سوله مې زړه وخوګیدو څه مې کړي وای مینه مې لرله ورسره
لږ وروسته مې وویل:
- ښه! تا څه وویل مخکې، مډرِن مجنون؟
- هو، خو! دا تا له ځانه څه جوړ کړي دي؟
- وخت او بخت داسې کړم

ومې نه غوښتل چې وخت ضایع شي تم نه شوم بیک مې را واخیست او له پوهنتون ووتلو موټر کې ناست وو د پوهنتون نه لږ مخکې مې موټر ودرولو سر مې پر اېسټیرینګ کېښود غلی وم هغې وویل:
- څه وشول؟
- څه نه سوچ کوم چې چېرته به ځو؟

موټر مې روان کړ له کوټه سنګي تیر وو چې هغې په عاجزه لهجه وویل:
- ظاهره! چیرته ځو؟
- اممم! همداسې ځو ګورو به چې منزل مو کوم ځای کیږي...

د کابل قندهار پر لویه لاره روان وو، سپیره ډاګونه تر سترګو کېدل راسته خوا ته دښته وه د وروسانو له وخت پاتې شویو ټانګونو ډکه وه بله خوا د نویو ودانیو خښتې تر سترګو کېدې د افغان بیسیم لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دړې ته مې پورته وکتل ليکلي وو "خدای مو مل شه، ښه سفر" پوی شوم چې لهٔ کابل ووتلو...

ورو ورو مې موټر زغلولو، د ښار ډرايور يم نو، سرک کوچنی وو لږ مخکې لاره کې د تيلو پمپ سره ودريدم غوښتل مې موټر ته تيل واچوم چې لاره کې خلاص نشي، موټر ته مې تيل واچول سولې وويل:

- زه وږې شوې يم

د تيلو پمپ کې بس يو جومات وو کانتين نشته وو چې سولې ته د خوړلو څه راوړم، ومې ويل:

- دلته خو څه نشته، مخکې به وګورو

خير! موټر ته پورته شوم، کلۍ مې موټر کې راتاو کړه موټر سيلف نهٔ وهلو دوه درې وارې مې کوښښ وکړ ونهٔ شو، بانټ مې پورته کړ غوښتل مې وګورم چې څه ستونزه ده، سوله هم له موټر ښکته شوه لکه ماشوم چې مور له لمن نيولې دغسې راپسې ګرده تاوېده ومې ويل:

- ولې ښکته شوې؟

- ډاريږم...

مُسک شوم څه مې ونه ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تیلو پمپ یو کاریگر راغی له موټر تاو را تاو شو خو زور یې ونهٔ رسید پرې ویې ویل:

- ستونزه یې عجیبه ده، او دلته خو مستري نهٔ پیدا کیږي وچه دښته ده، خدای مو مل شه نو

بله چاره نه وو، ما هم کوچنی کار نه وو کړی د یو چا لور مې راتښتولې وه، اړ شوم موټر د تیلو پمپ کې پریږدم، موټر مو پهٔ ټیلو یو څنگ ته ودرولو، زه او سوله د سړک څنگ ته راغلو سړک تش وو هیڅ موټر نهٔ تر سترگو کیدو ساعت وروسته یو بایسکل له لرې را ښکاره شو سپین ږیری سړی پرې ناست وو رانږدې شو پهٔ روانه یې غږ کړ:

- و دواړو طرپو لارې بندې دي، خودا چیرې ماین چاودیدلی

څنگ ته کښیناستم پر زنگون مې سر کېښود خوب راباندې لږ لږ غلبه کړې وه سترگې مې پټیدې چې د یو لارۍ ډوله موټر غږ مې واورید د کابل له لوري را روان وو، نه مې غوښتل له لاسه یې ورکړم د سړک پر منځ ودریدم دواړو لاسو باندې مې اشارې ورته کولې موټر را نږدې شو، ودریدو پهٔ اندام غټ سپین ږیری پکې ناست وو ومې ویل:

- کاکا! موږ بهٔ تر یو ځای ونهٔ رسوې؟

- چیرې څئ؟

- هر ځای پورې چې تاسو ځئ، زموږ منزل مالوم نهٔ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه خو وردګو ته ځم ارسه څئ؟

څه مې ونهٔ ويل د فکر کولو وخت نهٔ وو موټر ته ور پورته شوم سولې ته مې لاس ورکړ را پورته مې کړه موټر حرکت وکړ...

تره يو ځايه تللي وو، سپين ږيري کاکا د سولې طرف ته عجيب عجيب کتل سولې ته مې غوږ کې وويل:
- مخ دې پټ کړه، کابل خو نهٔ دی.

سولې مخ پټ کړ سپين ږيري کاکا لهٔ ځانه سره پهٔ خپله لهجه کې زمزمه کوله:
محبت اول اسانه پهٔ نظر راغی
په آخر کې نصيب خون جګر راغی

ستړی وم د کاکا زمزمو نور هم خوب راوست، سترګې مې پټې شوې وې
د موټر د بريک ټسس شو! راويښ شوم سترګې مې ومږې کاکا وويل:

- زهٔ خو ته دو ځايه رتلم، نور څه خدمت؟
- خيريوسې کاکا، خو دا کوم ځای دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ده چک دی چک!

کاکا دوه منې راکړې او موټر حرکت وکړ سپیره ډوړه پورته شوه، مخکې روان شولو دا ځای سپیړه دښته وه او تر نیم ډېره یې هدیرې نیولې وه سولې ته مې منه ورکړه له کله نه چې وږې وه، سولې له واره له منې کپ کړ ما منه خولې ته وړله خو زړه مې ونهٔ شو هغه مې هم سولې ته ورکړه...

نابلده وم سولې کلک لهٔ لاس نیولی وم، ساعت وروسته یو پخوانی جیپ ډوله موټر راغی اشاره مې ورته وکړه ترڅو ودرېږي، ودریدو ورته ومې ویل:
- وبښئ دلته جومات چیرته؟
- نور خو نه یم خبر، خو آغه د لنګر کلی ده جومت یې هم اتماً مَلته دی
- مننه

موټر ولاړو سولې وویل:
- جومات څه کوې هاا؟
- ولې نکاح نهٔ ترو؟ زه پهٔ حرام ډول نشم اوسیدلی درسره

سوله مُسکۍ شوه ویې ویل:
- ویاړم دربانډې زما مډرِن مجنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر کلي لاړو جومات مو هم په پوښتنو پوښتنو پیدا کړ، سولې ته مې د باندې پرېښوده زه دننه جومات ته لاړم، ملاصیب ډېر ښه سړی وو ټوله کیسه مې ورته وکړه ویې ویل:

- راځئ، زما کورته، نکاح به مو وتړم، او تاسو چې د حق په لاره ځئ نن شپه هم ماسره وکړئ

د نکاح کار خلاص شو زه او سوله د یو او بل شولو، خو سولې اندیښنه کوله ورو یې راته وویل:

- چېرته به اوسیږو؟ موږ خو څوک نهٔ لرو.

لکه چې ملاصیب واوریدل ویې ویل:

- ظاهره زویه! ترڅو دلته یاست زما ځمکې ډیرې دي زه خو جومات کې وم زما ځمکه کې کار کوه او زموږ کور کې اوسئ هسې مو اولاد نشته پر تاسو به مو زړه ډاډه وي

د ملاصیب ښځې ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:

- ښه وایي زویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره ومې منله، اوس دلته اوسېږو، خواري او مزدوري لومړیو کې راته ګرانه وه خو اوس عادت یم ښهٔ خوشاله یو، او داسې ښکاري چې ظاهر پلار کیدونکی دی...

تر دې دمه یې دا ترټولو اوږده لیکنه وه، بله لیکنه څه وخت وروسته شوې وه دوام مې ورکړ

- ۱۳۸۱ د دلو ۲م

شاید نور لیکلو ته نور څه نشته وي، موږ داسې ځان ورکړ چې هیڅوا پیدا نهٔ کړو، زه پلار شوی یم د لور نوم مې مناحېل ایښی مُسکا یې تر موره زر چنده خوږه ده.

دا لیکنه همدومره وه کتابچه کې تر ۵۰ ډېرې تشې پاڼې وې وروسته لیکنو دوام موندلی وو

- ۱۳۸۴ د سرطان ۵م - کابل علی آباد روغتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پورې خندا راځي چې څه رنګې ساده ومه
ژوند پسې د مړو تر مزاره پورې تللی وم

له تيرې ليکنې کم او زيات درې کاله تير شول، خو ژوند داسې لوبه وکړه چې بايد يې نه واى کړې.
لور مې د ۱۷ مياشتو شوې وه، کليوال مو پيژندل هغه ځاى زموږ کلى شوى وو د ځمکې کارونه مې زده کړي وو د خوراک او څښاک هومره مې ګټلې ښه مې ياد دي د شپې سولې راته وويل:
- ليچې مې تشې شوې؟
- ولې؟
- دا ستا د شوخې لور د لاسه مې بنګړي مات شول
- خير غم مکوه وبه شي

د همغې شپې سبا د غرمې وخت کېدو پياده بازار ته ولاړم سولې ته مې له بازار بنګړي لاس کې نيولي وو، پهٔ سندرو سندرو کور ته روان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي ته نږدې وم د ډزو اوازونه مې تر غوږ شول، فکر مې کولو چې څوک ښکار کوي ځکه هر وخت مې اوريدل، کورته نږدې شوم چغې مې واوريدې څادر مې په اوږه واچولو منډه مې کړه

د کور دروازه خلاصه وه، خلک راټول وو د خلکو مينځ کې ورننږدې شوم...
سوله پرته وه، مناحېل يې غېږ کې وه، د څادر پېڅکه مې تر غاښ لاندې کړه، د انگړ مينځ کې ونې لاندې ولوېدم، ملاصيب ويل:

- د سولې ورونه وو، موږ ډېر کوښښ وکړ خو پر موږ يې کم وو ډزې کړې واى، ويې ويل چې ظاهر ته څه نه وايو، همدا يې سزا ده

زه بې هوښه شوم...

سترگې مې پرانيستې، د ساعت ټک ټک مې اورېدلو سر ته مې مور ناسته وه ژړل يې په ژړغوني غږ يې ويل:
- زويه! ولې د له ځانه سره داسې ظلم کړى

ما چغه کړله:

- سوله چيرته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور څه ونه ویل خو زه هوښیار وم پوهېدم ورور مې وویل:
- خاورو ته مو وسپارل ستا له بیک ملا صیب ستا موبایل پیدا کړی وو موږ یې خبر کړلو

له کور ووتلم، ډېر وخت شو د معتادینو مینځ کې ژوند کوم، خو معتاد نهٔ یم لیونتوب مې غوره کړی ده...

د لیونو هوښیاري هم ومنئ
پهٔ دښتو ګرځي خو پهٔ ښار نهٔ راځي

یوه بله لیکنه شته وه دوام مې ورکړ، خو داسې لیکل شوې وه لکه لاسونه چې پرې ریږدېدلي وي
- ۱۳۸۸
نن دې لهٔ یادونو ځان بې غمه کوم دا کتابچه به یا سوځوم یا یې هم چاته ورکوم چې یو کس خو زما د ځوریدلي زړه غږ واوري، وروښو دې ریښتیا هم سخته سزا راکړه تر مرګ هم نهٔ ترې خلاصېږم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**